سال ۱۳۴۷
(۷)
10/1968

۱۳۴۷
میزان
(۷)

کاروان

ددې ګڼې مضامین

انسانی علو د پشتی ۲ مخ
په سیکولوجی لحاظ ۱ مخ
د سلطان محمود... ۲ «
آیا هنر یو ډول... ۵ «
دګرمسېر جغرافیائی-
وضع ۱۱ «
په مغولی دوره کی- ۱۲ «
دادب وږمې ۱۴ «
رنسانس او... ۲۱ «
دخندا پلوشی ۲۳ «
دمینی خبری ۲۶ «
دنړی... ۲۷ «
سره میاشت او اسلام ۲۸

د افغانی سرې میاشتی عالی رئیس والاحضرت شهزاده
احمدشاه چی ددوی په پاملرنه نوموړی خیریه
مؤسسی په زړه پوری انکشاف کړی او په هیواد کی
دننه او د باندی ئې د مصیبت ځپلو سره مالی
مرسته او د قدر وړ خدمتونه کړیدی

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د تلې میاشت

انسانی علو

والی چې انسان اشرف المخلوقات دی او داچې د کائناتو پرلوی جهان ئې د پاداری برم پروت دی یوازې د هغو فضایلو نتیجه ده چې پاک خدای [ج] د بنی آدم په نهاد کې په ودیعت سره ایښې دی.

هو! همدغه حضرت انسان یوازنی الهی مخلوق وو چې د (الستهٔ بربکم) څخه ئې الهی امر نهی ته غاړه کښېنوده او ټول آسمانی احکام او اجتماعی قیودات ئې د ټولنې په خیر قبول کړله او ځانته ئې د یوه اجتماعی مخلوق صفت کسب کې یعنی ترځان ئې نور مقدم کړله او پاداخه چې پر ځان ئې لوړوی هغه پر نورو هم پیرزوری.

د همدغه مقدس او شریف احساس په وجه د خپلې ټولنې ناتوانی سره سره بیا هم وکړای سوای چې د دې خاورینې کرې د کامرانۍ تاج پر سر کړی.

بلې! انسانی ژوند د ګمرهٔ یو دبله سره او بدل شویدی چې د شرق لوی فیلسوف حضرت سعدی [رح] داانورله مخې چې وایی: «بنی آدم اعضای یکدیګر اند» واقعا بشری کتله څخه جسم دی چې د افرادو له مالیکو نو څخه په وجود راغلی ده او دهری ټوټې درد او ناآرامی د ټولو درد او ناآرامی موجب ګرځی او یوه بد مرغی حتما د نورو نیکمرغی مختله کوی ځکه نو دا د ټولنې دهرغړی فطری او طبیعی وجیبه ده چې له نورو همنوعانو سره غمشریکی وکړی او ددې د پاره چې دغه فردی همکاری او نوع پرستی په منظم او مؤثر ډول اجراء شی نو یو لړ اساسی تشکیلات چې د انسانی عاطفی ستر مظاهر بلل کیږی په وجود راغلی دی چې یو ډول ئې د سرې میاشتی خیریه مؤسسی دی چې (۱۰۴) کاله پخوا دیوه سویسی خدای پاری عالی انسان «هانری دونانت» له خوانی پښت کښېنودل شو او له عیرستی نړی له ددغی عالی مفکورې د تقویی او تعمیم په لاره کې راوبلل او نړی والو هم ددغی عالی مفکورې تائید کړیدی چې دلیکه مرغه زموږ په ګران وطن افغانستان کې هم د سرې میاشتی په نامه یوه خیریه مؤسسه منځ ته راغلی ده چې پدې وروستیو کلو کې ئې د ګران والاحضرت شهزاده احمدشاه په لار ښودنه په زړه پوری انکشاف کړی او په هیواد کې د ننه او د باندی ئې د قدر وړ خدمتونه کړیدی البته دا د هر افغان وجدانی او ایمانی وظیفه ده چې د بېوزلو همنوعانو سره د مرستی په غرض ددغسی خیریه مؤسسی په مادی او معنوی تقویه کې تر خپله وسه پوری ځان ونه سپموی ځو دوطنوالو ددغی ګټوری اوشریکی مرستی له لاری دافغانی سرې میاشتی ټولنه تر پخوازیات د خدمت کولو قدرت پیدا کړی.

✿ ✿

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
14 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

د ډراماتیک ادب او هنر له کتاب څخه:

لیکونکی م. [عطائی]

په سیکولوجی

لحاظ د ډراماتیک هنر څېړنه

کله چی د کوچنیانو نړۍ ته په غور او تعمق ځیر شو نو وینو چی د هغو په بسیط ذهن کی دیوه د پېښو (دهن کجی) له عمله څخه د بل شدید عکس العمل را پاڅېږی.

همدا ډول دهری اشارې څخه دوی په خاص ډول سره متحسس کیږی.

شوخ کوچینیان همېشه په اصطلاح ځان قواره جوړوی چی اکثره د نورو کوچینیانو د خندا او تماشی باعث ګرزی خو کله چی د کوم کوچنی حرکات د مسخرې په ډول ورغندی نو د هغه د اعصابو موازنه خرابېږی، او عصبیت ځینی څرګندېږی او بیا ئې پر ځان پام وی او داسی حرکت نه کوی چی د نورو شوخو کوچنیانو توجه ځان ته جلب کړی او مسخره سی.

د پورتنی یو لنډ مثال څخه موږ د حیات په عادی صحنه کی هم قضاوت کولای سو داسی عمل او عکس العمل چی د کوچنیانو په روحیاتی عالم کی تاثیر لری نو د لویانو په نړۍ کی هم بی تاثیره نه بلل کیږی.

که په یوه طبقاتی ټولنه کی د هغی د افرادو عمل د مثال په وړاندی کښېږدو نو موږ وینو چی د یوې ضعیفی او کمزوره طبقی څخه استثمار کوی او د دې دواړه طبقو د اخلاقو کامل تباین د دوی د نفسیاتی جوړښت جلا والی هم ښیی، د دې دواړو طبقو د نفرت او الفت معیارونه سره بېل وی او دا نو دیوه پاخه ډراما لیکونکی وظیفه ده چی د غسی اجتماعی روابطه د سیکالوجیکی نقطهٔ نظره تحلیل کړی او بیا د خپل ادبی هنر محصول وړاندی کړی که د غسی نفسانی اړخونه و پېژندل سی نو یقین دی چی د ټاکلی ټولنی روحیات غلایق به ئې تامین کړی وی.

کله چی یو ډراما پر کوم سټیج تمثیل کیږی نو موږ ویلای سو چی یو لړ «پېښی» دی چی د ماجراګانو حکایت کوی او حرکت چی د کوم ممثل څخه صادرېږی نو هغه جوخت د ننداره کونکو پر روحیاتو تاثیر لری.

مثلا په یوه حرکت د ننداره کونکی په حال کی داسی تغیر راولی چی د خندا ئې پر پښتورګو لاس نیولی وی، په بل حرکت ئې خوله د تعجب او حیرت څخه خلاصه پاته وی، او په یو بل حرکت ئې تر سترګو اوښکی راروانی کړی.

د ممثل دغه حرکات او په ننداره کونکی کی د هغو انعکاس ټول هغه سیکالوجیکی تاثیرات دی چی د ممثل د حرکت او ننداره کونکی د ذهن ترمنځ رابطه قائموی.

د اجتماعی سیکالوجی په رموزاتو باندی بلدیت د یو ډراما لیکونکی د مهمو وظایفو څخه شمېرل کیږی

د مثال په ډول په یوه ټولنه کی ملوک الطوایفی سیستم حاکمیت ولری هلته د زمیندارانو اقلیت او د بزګرانو اکثریت او د دوی سیکالوجی د دوی د تولید او توزیع په روابطو کی

دریم مخ دی وکتل شی

د عبدالصمد [نصرخواه] ژباړه

د سلطان محمود لومړنی ژوند

ابوالقاسم محمود (۱) د سبکتګین زوی دی د محرمی د میاشتی په لسمه په سنه ۳۶۱ هـ چی د ۹۶۱ع کال د نومبر د دوهمی سره مصادفه ده پیدا سویدی او مور ئی د زابلستان د یوې نجیبی کورنۍ څخه وه نوموړی د هغه وخت د متداوله علوم زده کړه لکه چی د یوه شهزاده لایق وی د هغه عصر د پوه او دانشمند قاضی بوعلی حینیا ئی د پلار (۲) څخه کړیده محمود د علومو په مختلفو شقوقو کی بالخصوص په دینیات شریف کی کافی معلومات درلود قرآن کریم (۴) ئی حفظ او یا دوو په فقهه او احادیثو پوه ؤ د سیاسی تعلیم او تربیی له لحاظ هم ډیر ښه ؤ ځکه سبکتګین پخپله ده ته د مملکت د اداره کولو اصول ورزده کړی ؤ د هغه وخت پندنامه چی په رساله سره معروفه ده ده ته ابلاغ سوی وه همدا وجه وه چی محمود د مملکت په اداره کولو کی ښه تجربه اولوی لاس درلود همدا رنګه هغه وخت چی سبکتګین د بست وجنګ ته تلی خپل زوی ئی محمود چی د ۷ کالو په سن ؤ په غزنی کی په وکالت پرېښود او کرمانی بوعلی ئی دده وزیر کړ خو څو کاله وروسته بیا د زمین-داور د ولایت حاکم شو محمود د خپل عصر په جنګی فنونو کی تام مهارت درلود او نومیالی توریالی (شمشیرباز) ؤ په نښه ویشتلو او نیزه جنګی کی ئی ساری ندرلود او په هغه فوج کی چی د غوریانو د سرکوبی لپاره تللی ؤ ښه امتیاز ئی وګاټه پدغه وخت کی چی دده عمر و ۱۹ کالو ته رسېدلی ؤ په هغه جنګ کی چی دده د پلار او جیپال په مابین کی په کال ۳۷۶ هـ ۹۸۶-۹۸۷ع کی په لغمان کی وسو محمود پدغه جنګ کی ډیر مهم رول ولوباوه خو په ۳۸۰ هـ ۹۹۰-۹۹۱ع کال کی ځینو مفسدینو د پلار او زوی په منځ کی نفاق واچاوه او په نتیجه کی محمود د غزنی په حصار کی بندی شو مګر دغه بد تفاهم ژرورک شو او وروسته تر څو میاشتو بیرته خوشی شو او د پلار له خوا د ډیر لطف او عنایت مورد وګرزېد. څو کاله وروسته یعنی په (۵) ۳۸۴ هـ او ۹۹۴ع کی د فایق او ابوعلی سیمجوری په جګړو کی ئی شرکت وکړ او یو لایق جنرال شو. د دغو خدمتو له امله سبکتګین د سیف الدوله لقب ورته ورکړ او د خراسان د ټوله لښکر فرمانده ئی کی مګر پسله لږ مودې څخه کله چی محمود

---

۱) طبقات ناصری ۷۰ مخ.

۲) آمین احمد رازی «بهیقی ۶۰۹ مخ».

۳) حاجی خلیفه په دوهم ټوک ۳۲۷ مخ کی حتی داسی ګمان کوی چی د شریعت په باب ئی کتاب لیکلی دی.

۴) عتبی ۸ مخ.

۵) مجمع الانساب لومړی مخ او ۲۴۵ پاڼه او بهیقی په ۲۵۷ مخ کی، فرخی په اول مخ او ۲ پاڼه کی غالباً ودغه واقعی ته اشاره کړیده.

لا په نیشاپور کی ؤ ابوعلی سیمجوری او فایق پر محمود حمله وکړه او محمود ئې د نیشاپور په تخلیه مجبور کړ خو

محمود څو میله تر ښار د باندی اردوګاه جوړه کړه او د خپل پلار د کومك په انتظار کی ؤ مګر فایق او

ابوعلی سیمجوری جګړې ته دوام ورکړ او د محمود په فیلانو ئې ټوله ښارونیو په همدغو وختو کی چی د

سبکتګین امدادی فوجونه ورسېده نو په ۲۰ د جمادی الثانی ۳۸۵ه او ۹۹۵ع کی د دوی فوجونه سره مخامخ

سول او ډېر سخت جنګ ونښت او پسله ډېرو وینو تویولو د دښمن لښکر مغلوب او منهزم سول او د بوعلی ډېر افسران

د فاتحینو په لاس کښېوتل او د هغو هاتیانو (فیلانو) سره چی د دښمن نیولی وه مبادله سوه . (۱)

د پلار او زوی د اقتدار ډېر والی د ځینو د سیسو و منځ ته راوړلو سبب سو لکه چی عبدالله ابن محمد ابن

عزیز وزیر امیر نوح ترغیب او وادار ه کړ چی ټوله هغه ځایونه چی د ده تر لاس لاندی وې ونیسی او یا لااقل

یوه برخه د هغو څخه تصرف کړی مګر امیر نوح له دغه کاره انکار وکړ خو کله چی ایلك خان د بخارا او خواته حرکت وکړ همدغه وزیر بیا د سبکتګین د ایذا لپاره

ځینی زمینی مساعدی کړی خو بالاخره سبکتګین د دغه وزیر د خلع کولو لپاره محمود د ۲۰ زرو عسکرو سره مامور کړ او ده هم دا

د نده په موفقانه صورت انجام چی په عوض ئې بل وزیر وټاکل سو پدغه وخت کی بیا ابوالقاسم د ابوعلی سیمجوری ورور ځان د خراسان

قائم مقامه وباله او نیشاپور ئې وینو خو محمود د پورتنی اغتشاشاتو تر رفع کولو وروسته د خراسان وخواته حرکت وکړ اما ابوالقاسم بېله کوم جنګ

څخه نیشاپور تخلیه کی او محمود خپل عسکر په خراسان کی متمرکز کړه تر لږ مودې وروسته په ۳۸۷ه او

۹۹۷ع کی سبکتګین چی مړ کیدی خپل کوچنی زوی اسمعیل نومی چی د الپتګین د لور له بطنه څخه ؤ خپل پرجای

(۲) وټاکی او پخپل ژوند کی د ده لپاره د ټولو اشرافو او امراؤ څخه ټینګه لوړه او بیعت اخستی ؤ نو اسماعیل

د پلار تر مرګ وروسته بلخ ته ولاړ او هلته ئې د بادشاهی اعلان وکړ او هغه خزانه چی ئې د پلار د زحمتو او

کوښښو له امله منځ ته راغلی وه د دې لپاره چی مبادا د محمود سره کومه اتفاقی جګړه ونښلی او عسکر ئې ښه

جنګ او سر تیری وکړی ټوله خزانه ئې وخپلو عسکرو ته وویشل . محمود د خپل پلار پدغه وصیت او فیصله راضی

---

۱) عتبی ۹۰ - ۹۱ مخ .

۲) نوټ: اسماعیل د دې لپاره بلخ ته ولاړ چی پلار ئې پخپل وصیت کی د غزنی او بلخ ولایتونه وده ته سپارلی وه خراسان ئې محمود ته او د بست ولایت ئې و «نصر» ته ورکړی ؤ .

«د لومړی مخ پاته»

مشخص کېدای سی همدغه ډول په یو داسی ټولنه کی چی هلته تولیدی قواؤ انکشاف کړی وی او سرمایه داری سیستم د حاکمیت

په حال کی وی هلته بیا د اجتماعی سیکالوجی د پېژندنی د پاره د تولیدی وسائلو مالك او کارګر روحیات پېژندنه غواړی .

د دوی آثار په لوی ارزښت نمانځل کیږی چی د دغسی اجتماعی سیکالوجی په رڼا کی لیکل سوی وی .

نه‌ؤ اوغوښتی چی د مملکت
ټوله زمامداری پخپله غاړه
واخلی د پلار ترهګ وروسته
دستی محمود ابوالحسن

حمولی دیوې تعزیت نامی
سره واسمعیل ته ولیږه او په
تعزیت نامه کی علاوه سوی
وه. که اسماعیل دورور ولی

له امله د محمود پر عالیه
حقوقو اعتراف وکړی نو
باید غزنی محمود ته تسلیم
کی او په عوض کی به د

خراسان او بلخ ولایتونه
ورکړه شی او په نامه کی
داهم لیکل سوی وه که چیری
اسماعیل حقیقتاً او واقعاً

باکفایته او عسکری تجربه
اولیاقت درلودای نو محمود
به ابداً د پلار له وصیت څخه
انحراف نه وای کړی.

اسماعیل دغه پیشنهاد
رد کی خو دهمدې قضیی
په اثر د محمود خسر
عبدالحارث دفریغونی (۱)

چی د جوزجان حکمران ؤ
ډیر کوښښ وکړ چی دا قضیه
د مذاکرې او مصلحت دلیاری
حل شی مګر اسماعیل ونه

منل نوځکه محمود دوغوښتل
چی د توری په زور خپل
مقصد حاصل کړی خو کله
چی هرات ته ورسید

بیا ئې د مصالحی په توګه
و اسماعیل ته پیشنهاد وکی خو

بیاهم اسماعیل انکار وکړ محمود
وروسته د جنګ په تهیه کی شو
خپل ورور ابوالمظفر نصر د بست
حکمران او خپل اکا «بغراجوق»

د هرات حکمران او فوشبخ د
ځان متحد کړه له بله پلوه ئې خسر
(عبدالحارث فریغونی) هم پرټولو
قوائو سره دده مرستی ته حاضر

شو پدې ډول محمود ډیر مجهز
شو او د غزنی ولور ته ئې عزم وکړ
اسماعیل هم د غزنی دساتلو لپاره
د بلخ څخه حرکت وکی د مخه تر

دې چی د جنګ اور بل شی محمود
دوروستی ځل د پاره په مصالحت
اقدام وکړ مګر اسماعیل د محمود
ټول غوښتنی او مصلحت دده د

ضعف او کمزوری دلیلونه وبلل
او هغه ئې رد کړه نوځکه محمود
مجبوره شو چی د دې قضیی د حل
لپاره د توری د زور وحکمیت ته

پرېږدی نو پداسی حال کی چی
د دواړو خواؤ قواوی برابری وې
مخ پر مخ شول د جنګ صفونه (۲)
وتړل شوه خو صرف کم شی چی

د دغو دوو متخاصمو ډلو په منځ
کی امتیاز راوستی ؤ هغه د
نوه ورو ډلو د عمومی قوماندانانو
شخصی لیاقتونه وه یعنی د یوې

ډلی په راس کی داسی شخص چی
ټوله عمر ئې د علماؤ، ادباؤ سره

تېر کړی ؤ وجود رلود خو
د بلی ډلی په سر کی ډېر
باتجربه او جنګ ازموده
او باجسارته شخص وجود

درلود د دواړو خواؤ ترمنځ
جنګ د غزنی په دشت کی
په ۳۸۸ هـ کال کی چی د ربیع
الاول میاشت وه پیل وکړ

شو اسماعیل ټوله ورځ قائم
او ثابته ؤ مګر د ماښام په
هغه څخو حملو کی چی
پخپله د محمود له خوا پر وسوی

شکست او ماته ئې ومیندله او
عسکر ئې وتښتېدل محمود
فاتح شو او د غزنی د تخت
مالک شو اسماعیل د غزنی

وحصار ته پناه یووړه خو
کله چی دی پوه شو چی دا پناه
ځنډ نه کوی نوځکه و محمود
ته تسلیم شو او محمود دده

سره ښه مهربانی او سلوک
وکړ پدې توګه د اسماعیل
د سلطنت ۷ میاشتنی دوره
پای ته ورسیده که څه هم
اسماعیل دیو نظر بند شخص

پاته په ۹ مخ کی

۱) ګزیده ۳۹۳ مخ او مجمع-
الانساب ۲۲۹ پاڼه.
۲) دفریغونیها د مختصری
شرحی ضمیمه.
۳) عنصری ۷۶ مخ وایی چی
اسمعیل ۲۰۰ هاتیان د
جنګړې و ډګر ته راوستی
وه.

دوست محمد [ترهکی]

د ګرمسیر جغرافیائی وضع

«لومړی فصل»

د ګرمسیر منطقه د جغرافیائی موقعیت په لحاظ د لښکرګاه وجنوب ته په ۶۵ کیلومتری کی پرته ده چی تقریباً د هلمند د ناوې جنوب غربی سیمه تشکیلوی. د منطقی د سره څخه تر پایه پوری د هلمند نامداره سیند د شمال څخه د جنوب غرب وخواته په هغه ځای کی تلی دی او د خپلو څنډو د شاوخوا مځکی د زراعت د پاره ښه ترا مساعدوی چی په اوسنیو وختو کی د هلمند د انکشاف د عمومی ریاست په توجه دا منطقه ښه ترا نسبت د پخواته حاصلخیزه سوېده چی په را تلونکو فصلو کی به پوره معلومات د محترمو لوستونکو ته ورکړه شی.

د ګرمسیر منطقه یوه هواره او پراخه ورشولری چی اکثره مځکی ئی زراعتی او د هلمند د سیند څخه او بیری او هغه ځایونه چی او به ندی ورسیدلی لا مزروع دښتونه پاته دی او ځینی برخی ئی چی د سیندغاړو ته نژدې دی کوچنی، کوچنی ځنګلونه هم لری چی د هغو د لرګو څخه خلک د سونګ د پاره استفاده کوی د ځنګلونه په برتا که لبلیز او بکت کی واقع دی.

د منطقی شرقی برخی اکثره ریګستانونه دی چی هلته په دوبی ډېره ګرمی او خلک د ریګ د تودوالی په نسبت استوګنه نسی کولای مګر په ژمی کی کوچیان او د مواشیو خاوندان د خپلو پسو او وزو سره د مالو د څړ او ساتنی د پاره د خو میاشتو د پاره ریګستانو ته پورته کیږی او د هغه ځای د لرګو او وښو څخه استفاده کوی.

غرونه او لوړی سطحی په هغه منطقه کی نه لیدل کیږی د مځکی سطحه ئی هموار ده. سړکونه او فرعی ویالی، کانال او فرعی لښتی هلته سته چی په آینده کی به پوره معلومات درکړه شی.

د منطقی اوږدوالی ۹۰ کیلومترو ته رسیږی او عرض ئی د هغه نقطه نظره چی زراعتی مځکی وی په اوسط ډول ۲۰ کیلومترو ته رسیږی اما که د منطقی په عرض کی د شرقی خوا څخه ریګستان او د غربی خوا څخه د برتا کی دښت هم حساب سی نو تر ۲۰ کیلومترو ډېر یږق، ۲ کیلومتره فقط هغه برخی دی چی انسانان ګذاره پرې کوی او زراعت پرې کیږی.

-[څلورګونی حدودونه]-

د ګرمسیر د منطقی څلور ګونی حدودونه یا په بل عبارت شاوخوا حدونه چی دا منطقه احاطه کوی په لاندی ډول دی.

۱. شمال :-

د شمال وخواته ئی لا مزروع دښت او ریګستان دی چی د هلمند د ولایت د مرکز (بست) سره مښلی او یو برخه ئی تقریباً شمال غرب بلل کیږی چی د بارکزو د ناوې د ولسوالی سره مښتی ده.

۲. جنوب :-

د جنوب وخواته د دې منطقی د خانشین ولسوالی ده چی د هلمند سیند د دغه دوو منطقو په مابین کی یو طبعی حد فاصل جوړوی. د دې منطقی د غه د جنوب غرب څه برخه و

جنوبي پښتونستان ته ځان رسوي.

۳. شرق:-

د شرق وخوا ته ریګستان دی چې دغه ریګستان د ګرمسیر د منطقې مربوط او د ښور اوك تر ریګو او منطقې پورې او د شمال شرق خوا ئې د کشك نخود تر دښتو رسیږي.

۴. غرب:-

د غرب وخوا ته د دې منطقې څه حصه ریګ او مهمه برخه د برتا کې دښت دی چې تر تا ګرشك او ډب سیستانی پورې چې د نادعلي د ولسوالي مربوط دی رسیږي.

د ګرمسیر د ولسوالي مرکز د منطقې په سر کې د بست څخه ۶۵ کېلو متره لري واقع دی. د ګرمسیر جنوبي خوا چې په طبعي ډول سره د هلمند د سیند په واسطه یو برخه د خانشین د ولسوالي څخه جلا کوي بل کم طبعي حد فاصل لکه غودره او نور نلري بلکې د منطقې څو شاوخوا ویشونه بېله کومې علامې تعین دي.

اقلیم (اوبه او هوا):-

د ګرمسیر سیمه چې د هلمند د ناوې په جنوبي برخه کې واقع ده هوائي نسبت وشمالي برخو ته ګرمه ده مګر بیا هم باید وویل شي چې په ژمي ډېر ساړه او دوبي کې تاوده بادونه لري د سړو او تودو بادو علت ئې دا دی چې ریګستانونه ورنژدې دي که په دوبي کې د لمر حرارت ډېر سي ریګونه تاوده کیږي او هغه بادونه چې د تودو ریګو څخه تیریږي تاوده وي او دغه ډول په ژمي کې ریګونه ساړه او هوا سړه وي. مګر په عادي حالت کې د هغه ځای هوا نسبت د هلمند وشمالي برخو ته توده ده. عموماً ژمي یو اندازه سوړ او لنډوي او دوبي ئې ډېر تود او اوږدوي. د ژمي بارانونه ئې ډېر لږوي، د زراعت او چښلو اوبه ئې دواړه د هلمند د سیند د اوبو څخه دي هلته د څاګانو کندل په کورو کې رواج ندي او که چیري دي هم خاصیت ئې د هلمند د اوبو په شان دي، اوبه ئې د صحت او حاضمي د نقطه نظره په اوسط ډول سره دي صحت ډېر نه خرابوي او وجود په هغه اوبو باندې ښه تر اوده کوي.

د هوا ګرمي: په دوبي کې د زیات حرارت په نسبت اکثره کسان بېکاره دي. او اکثره وخت په دوبي کې هوا دومره تودیږي چې کم طاقته خلګ او کوچنیان د ګرمي د شدت او د هوا د خرابي په نسبت ناروغه کیږي. مګر په اوسو وختو کې هغه برخې چې د درویشان لوی کانال پکښې تېر سویدي هوائي د شنو مځکو او زراعتي کښتو په سبب نسبت د ګرمسیر وآخرو برخو ته سړه وي.

کلي یا د انسانانو د استوګې ځایونه

د ګرمسیر منطقه چې یوه پراخه ورشو لري او وسعت ئې زیاد دی دا منطقه د انسانانو د استوګنې د نقطه نظره پر متعدد و کلیو باندې وېشل سوېده چې په هر کلي کې د انسانانو یو جمعیت ژوندون لري چې د هغو کلیوالي ژوند کلیوالي شکل لري. د کلي د کورو احاطې معلومې دي چې هر کور مختلفې برخې د انسانانو او حیوانانو د استوګنې او ساتلو د پاره لري. وهر کور ته نژدې یوه کچنې مزروعه چې د هغه کور مربوط دی هم سته چې په هغه کې یو کچنې فارم جوړوي. کورونه په یوه کلي کې یو او بل ته نژدې جوړوي چې یو بیضوي شکله خط تشکیلوي د کورو د خط په مابین کې یوه پراخه ورشو لري چې د کلیوالو ځوانان پسله کارو څخه د مازیګر په وخت کې د بازیو او غیږ ایستلو د پاره

هلته سره راغونډیږی اود سپوږمی په شپه ښځی د کور و څخه راوزی هلته ملی اتڼ کوی اوسندری وائي .

د کلیو ترمنځ عموماً فرعی لاری دی چی خلګ تګ او راتګ ورباندی کوی مګر په بعضو ځایو کی د کانال دغاړی اود زابرو دڅنډو سړکان هم یو کلی د بله سره مښلوی، دګرمسیر د منطقی مهم کلی په لاندی ډول سره دی .

شملان :-

وشمال غرب طرف ته د هلمند د سیند پر راسته څنډه پروت دی چی نفوس ئی لږ او زراعتی مځکی هم ډېری ندی .

هزار جفت :-

دا کلی دولس والی مرکز ته نژدی اود خلګو نفوس ئی زیات ارشو ئی پراخه او زراعتی مځکی ډېری دی ، کلی ئی دوی برخی دی یو ئی (هزار جفت علیا) اودوهم ئی (هزار جفت سفلی) نومیږی چی د دواړو ترمنځ د درویشان کانال تیر سویدی .

خارکو :-

دا کلی د منطقی د شمال غرب وخواته د ولسوالی د مرکز څخه تقریباً یو نیم کیلومتر لیری پروت دی نفوس ئی لږ او ډېر لوی نه دی .

ده ذکریا :-

دا کلی د خارکو وجنوب ته پروت اود کانال شرقی طرف ته پسی اوږد سوی دی د نفوس او وسعت د ډرویه نسبت وخارکو ته ډېر دی .

خلیفه ګان :-

دا کلی ډېر کچنی او نفوس ئی لږ دی د درویشان د کانال شرقی طرف ته دریګ په څنډه کی پروت دی د (امیر صاحب) مشهور زیارت هم هلته دی .

عباس آباد :-

دا کلی ډېر کچنی او د کانال شرقی بغل ته پروت دی مځکه ئی د زراعت د نقطی نظره لمړی درجه ده .

درویشان :-

د درویشان کلی پر دوو لویو کلیو ویشل سویدی چی یو یی (درویشان علیا) اودوهم ئی (درویشان سفلی) نومیږی چی دواړه ئی ډېر لوی کلی دی زراعتی مځکی ئی ډېری اود خلګو نفوس ئی هم زیاد دی .

برتاکه :-

دا کلی د هلمند د سیند د غرب وخوا ته تقریباً په منځنی برخه کی د منطقی پروت دی د نفوسو د مخی اوسط زراعتی مځکه ئی کمه او دښت ئی پوره وسعت لری کچنی کچنی ځنګلونه هم پکښی سته چی لرګی ئی یوازی د سوځلو کار ورکوی .

میان پشته :-

دا کلی هم پر مابین د منطقی پروت او ۳۰۰۰ جریبه زراعتی مځکه لری نفوس ئی اوسط دی دوی برخی لری لوړه میا پشته او کښته میان پشته .

کشتی :-

دا کلی یو کچنی ځای او محدوده ساحه لری خلګ ئی هم کم دی .

ټوبی :-

دا ځای ډېر کچنی او چندانی شهرت نلری .

جوی ګرم :-
داکلی یو کوچنی ځای اودلوی دروپشان ضمیمه دی.

لکی :-
داکلی د ګرمسیر په مابین کی یو لوی کلی دی چی د کانال د واړو بغلوته پروت دی ارشو ئی پراخه، خلك ئی ډیر زراعتی مځکی هم ډیری لری متعدد ملاکان او خانان پکښی اوسیږی پوشاوخواتی دانګورو باغونه هم سته خلك ئی ثروت مند دی.

صفار :-
داکلی ترلکی وروسته د جنوب وخواته پروت دی ترټولو کلیو دساحی اونوس د نقطهٔ نظره لوی او پراخ دی زراعتی مځکی ئی ډیری خلك ئی شته من دی. هلته زړی لوی کلاوی لیدل کیږی غالب ګمان کیږی چی دغه ځایونه په پخوانیو وختو کی د صفاری یعقوب لیث د حکومت مرکز ؤ یا به په کوم بل علت دانوم د صفار یا نود خواپرا پښودل سویدی.

بنادر :-
د صفار د کلی څخه تقریباً ۱۵ کیلومتره د جنوب وخواته د ګرمسیر د بنادر کلی معلومیږی چی پر دوو برخو وپشلی سویدی (بنادر-علیا) او (بنادر سفلی) چی یو د بله څخه تقریباً د دوه یا دوه نیمو کیلومترو په فاصله سره لیری دی. د بنادر زراعتی اوبه د مخه ډیری لږ وی مګر اوس د دروپشان د کانال څخه د صفار په برخه کی یوه نوی ویاله چی د بنادر دویالی په نامه یادیږی کش سویده چی د هغه ځای خلکو پخپله د ضرورت له مخی کیندلی او دا او بو څخه ئی د زراعت د پاره د هغه کلی خلك استفاده کوی. د بنادر مځکه د زراعت د پاره ښه ترا مساعده د، او ښه حاصلات کوی مګر د خلکو اقتصادیات ئی تر ۱۳۴۱ کال پوری د اوبو د لږوالی په سبب ډیر خراب ؤ.

بګت :-
د بګت کلی د ګرمسیر په آخر کی د جنوب وخواته پروت دی نفوس ئی کم او زراعتی مځکی ئی براخی او ښه حاصلخیزه دی مګر د زراعت اوبه ئی کمی دا وبو د کموالی علت ئی دادی چی د مځکو سطحه ئی د سیند څخه ډیره لوړه ده او اوبه په تکلیف ویالو ته راپورته کیږی د بله طرفه ویالی هم په غیر فنی ډول د هغه ځای خلکو د سیند څخه ایستلی دی.

لنډی :-
داکلی د منطقی په آخر کی واقع دی چی د لرګو کوچنی ځنګلونه پکښی سته چی د سوځلو د پاره ئی د لرګو څخه استفاده کیږی. د دې کلی اوبه هم کمی او د پورتنی کلی په شان تشکیلات لری.

بند، کانال، فرعی لښتی او زابرونه :-
د هلمند د ناوې د زراعتی پروژې د انکشاف عمومی ریاست د هلمند په منځنیو برخو او جنوبی خوا کی د قدروړ کارونه کړیدی چی عبارت د بندو د جوړولو او کانالو د کیندلو د سړکانو او لوی پلانو جوړول او د زابرو د کښلو څخه دی او پورتنی کارونه چی په هر ځای کی سوی دی د خلکو پر اقتصادیاتو ئی ښه ترا اثر اچولی دی.

د پورتنی کارونو په سلسله کی د ګرمسیر منطقه هم آباده سویده هلته د دروپشان لوی کانال او د کانال سر بند، سړکونه، د دروپشان پل او زابرونه جوړ سویدی چی هر یو ئی ځان ته تفصیل لری.

د کانال سر بند :-

دګرمسیر په شمال کی د هلمند سیند ته یوه موړه جوړه سویده چی اوبه ئی یوه اندازه راګرزولی او د سیند وشرقی خواته درې داوسپنی دروازې په مخصوص تخنیك سره نصب سویدی چی د هغو دروازو دلاری د درویشان کانال ته اوبه ورتېریږی . داوسپنو دروازې په کانګریټو کی نصب سوی او دیوې مخصوصی مشینی دستګاه پواسطه چی هلته ورته نصب سوېده د کلکو کیبلانو پواسطه پورته او کښته کیږی او د ضرورت په اندازه اوبه کانال ته ورایله کوی . چی د سر بند عرض ئی ۱۷۰ متره دی .

د درویشان کانال :-

د درویشان کانال د هلمند د مشهورو کانالو څخه دی چی عرض ئی ۴۰ متره او اوږدوالی ئی ۵۳ کیلو متروته رسیږی داوبو د تېرېدلو ظرفیت ئی ۱۲۰۰ مکعبه فټه په ثانیه کی دی چی د ګرمسیر د منطقی ۷۰ فی صد مځکی تر اوبو لاندی کوی او د صفار په کلی کی ختمیږی .

د درویشان کانال د هلمند د زراعتی انکشاف د پروژې د خوا په عصری او فنی ډول سره په عصری ماشین آلاتو باندی کیندل سویدی چی پر مناسبو ځایو باندی د خلګو د تېرېدو د پاره ټینګ پلان جوړ سویدی او ددې د پاره چی د اوبو د سرعت په واسطه د کانال د ننه سطحه خرابه نسی پر مناسبو ځایو باندی د کانال ډرافونه جوړ شویدی چی د اوبو زور ورکم کی . د کانال و دواړو خواوته زراعتی مځکی سته چی ټولو مځکو ته د کانال د دواړو بغلو څخه فرعی ویالی د خړوبولو د پاره جلا سویدی چی د هری فرعی ویالی په خوله کی یوه آله داوبو د ډېرېدو او لږیدو د پاره نصب ده .

د سلطان محمود ...

د ٤ مخ پاته

په حیث ؤ اما په حقیقت کی وهر شغل او کار ته چی دده زړه کېده کوم ممانعت ئی ندرلوده مګر ده د ۳۸۹ هـ کال په آخر کی برعکس هغه اعتماد چی محمود وده ته درلود په دسیسه کاری ئی (۱) شروع وکړه او د محمود د قتل اسباب ئی راغونډ کړی او د دغی دسیسی مشر نویشتګین ؤ . (۲)

کله چی محمود پدغه دسیسه کاری خبر شو نو (نویشتګین کاج) ئی په سیاست ورساوه او اسماعیل ئی له غزنی څخه وامیر ابو الحارث ته چی د جوزجان حکمران ؤ تبعید کړ او اسماعیل پاته عمر هلته په آرامی تېر کړ . (پای)

---

۱) عتبی په ۱۳۱ مخ کی وایی چی دغه دسیسه د ۳۸۹ هـ کال د جمادی-الاول په میاشت کی وروسته تر هغه چی سلطان محمود پر عبدالملك د نوح بری وموند .

۲) د دغی دسیسی څرنګوالی عتبی په ۱۳۲ مخ کی دارنګه لیکی :

یوه ورځ محمود د اسماعیل او د نویشتګین کاج سره د مرو د رود وخواته په ښکار تلی د تلو په وخت کی ئی نابوبره سترګی د نویشتګین وخواته شوې چی نویشتګین لاس د توری پر مټی نیولی او د اسماعیل وخواته د مخصوص اشارې په انتظار کی ؤ چی محمود له منځه یوسی ولی دلته اسماعیل پدې ګمان چی محمود د نویشتګین په اراده پوه سویدی نو ځان ئی بی خبره واچاوه ښائی چی د دغی دسیسی د جوړولو اصلی محرك امیر ابو-الحارث (منصور سامانی) وی ځکه چی دده مناسبات د محمود سره ډېر خراب وه .

د دوېشان د کانال پر بند و شرقي خواته د هزارجفت ویاله د فني عملي دخوا کیندل سوېده چې د هزارجفت علیا مځکې تر اوبو لاندې کوي او دا ویاله هم په فني ډول جوړ سوېده .

فرعي ویالي او لښتیان چې په ګرمسېر کې د هلمند دزراعتي پروژې دفني عملي دخوا جوړ سویدي په مجموعي ډول دټولو تعداد ۱۴ کېلو متروته رسیږي .

دبنادرویاله چې د هغه ځای دخلګو دخوا کیندل سوېده او د دروېشان د کانال څخه اوبه اخلي په ۱۳۴۳ کال دثور په میاشت کې تکمیل سوه اوږدوالي چې تقریباً ۲۰ یا ۲۲ کېلو متروته رسیږي چې د خلګو پر اقتصاد یا تو شاید ښه اثر وکي .

دګرمسېر دمنطقې په آخر کې لکه بګت، لنډي دمځکو دخړوبولو دپاره ویالي سته چې دخلګو لخوا په غیرفني ډول سره کیندل سوي دي چې په ژمي کې اوبه لري او په دوبي کې چې دسیند اوبه کمي سي اوبه ډېري لږ پکښې راپورته کیږي .



سړک، پل، فرعي لار :-

په اوسني ګرمسېر کې سړکونه، فرعي لاري اوپاخه د استفادې وړ پلان موجوددي چې په لاندنیو لیکو کې تفصیل ئې ویل کیږي .

سړګونه :-

دهلمند د انکشافي پروژې عمومي ریاست تر تاسیس دمخه د هلمند دناوې په جنوبي برخه یعني ګرمسېر او خانشین کې پاخه سړکونه نه ؤ اونه دموټرانو تګ او راتګ هلته کېدي که به کم وخت کمه لاري موټر دګرمسېر ومنطقې ته ورتله موټروانان به دمشکلاتو سره مخامخ کېده . مګر دتېرو څوکلو راپدېخوا هلته د هلمند دزراعتي انکشاف دعمومي ریاست له خوا پاخه سړکونه جوړ سول، مهم سړک چې په هغه منطقه کې موجوددي عبارت دهغه سړک څخه دي چې ددروېشان دکانال په امتداد پردواړو څنډو دهغه تللي او د صفار ترکلي ورسیږي چې اوږدوالي ئې ۵۵ کېلومتره دي . سربېره پردغه دزابرو پرغاړو هم سړکونه جوړ سویدي چې هر ډول موټر او نور عراده جات پر تللای سي .

پلونه :-

دهلمند دزراعتي انکشاف عمومي ریاست تر تاسیس دمخه دهلمند د سیند څخه خلک په ډېر تکلیف دسل په واسطه (چې د کېړې او دڅو وچو کډوانو څخه به جوړ سوي ؤ داوبو پرسطحه به ئې د کښتۍ په ډول ایله کاوه یو یا دوه نفره به پر کښېنستل او نفر به ئې د اوبو څخه دسیند د یوې غاړې څخه بلې ته تېرول یا به ئې د لامبو په واسطه ځانونه تېرول، د منقولو مالو او مواشیو اړول د رود څخه مشکل او پرمصرفه کار ؤ . مګر تقریباً د ۱۲ کالو را پدې خوا د لوی هلمند پر سیند په هر برخه کې محکم او پاخه پلان د پورتني ریاست د فني عملي له خوا جوسوي دي چې دخلکو په ژوند کې ئې ددغه نقطه نظره ښه تر اسهولت راوستلي دي دهلمند دسیند دمهمو پلانو څخه د دروېشان پل دي چې دګرمسېر دولسوالي مرکز ته نژدې دهلمند د سیند پر عرض باندې جوړ سویدي دا پل داوسپني پایي لري او پخپله د پله جوړښت د کانګریټو او د اوسپني د سیخانو څخه د ماهرو خارجي او

پاته په ۱۳ مخ کې

لیکونکی : [کارل یونك]

د [وږمی] ژباړه

آیا هنر یو ډول روحی ناروغی ده؟

هنر پخپل ذات کی پوهه نده، لکه څرنګه چی پوهه ذاتاً هنر نه دی، پدې توګه نو دغه دفکر او ذهن دوه قلمروه هر یو و ځان ته مخصوصه زمینه لری چی پخپله ددوی څخه پرته توضیح کېدلای نه سی.

که موږ کله کله دروح پېژندنی او هنر ترمنځ دارتباط څخه ږغیږو مقصد مو دهنر هغه برخه ده چی له خپله حده څخه بېله تجاوزه امکان لری چی تردې ډول مطالعو لاندی ونیول سی.

هغه څه چی روح پېژندنه ئې د هنر په باره کی ویلای سی یوازی دهنری ودی او پرمختګ په باره کی دی که نه دهنر په ذات او جوهر کی دسترس نسی پیدا کولای.

البته امکان لری چی دهنری پیدایښت شرایط او د انفرادی طرز العمل موضوع دی دشاعر و شخصی روابطو ته دده دمور او پلار سره ورګرزوو، خو دغه کار د شاعر د هنری فهم له لحاظه زموږ سره هیڅ مرسته نه کوی، ځکه په ډېرو وختو کی ددې پیوند برقرارول خصوصاً بیا دمرضی اختلالاتو په ځایو کی غیر ممکن دی.

روحی او عصبی ناروغی هم دپلار، مور او زامنو وروابطو ته ګرزولای سو لکه هغه ډول چی د ښو او بدو عادتو داخلاقی اعتقاداتو او خصوصیاتو، سواد او شخصی علایقو په باره کی هم دغسی کولای سو.

خو هغه څه چی د منلو وی هغه دادی چی ددغو ټولو ډول، ډول تظاهراتو دپاره دتشریح او توجیه ویوه ډول وسیلی ته قایل سو، ځکه پرته له دې څخه باید داسی نتیجه واخلو چی نو موړی تظاهرات ټول یو او واحد کار دی.

نو پردې اساس که موږ یو هنری اثر دیوې روحی ناروغی په ډول تشریح کړو نو یا به هنری اثر یوه روحی ناروغی وی او یا به روحی ناروغی یو هنری اثر وی. امکان لری چی دغه بیان دی یو دمنلو وړ تناقض وبولو خو هیڅ سالم عقل ئې نسی قبولولای چی روحی ناروغی دی د هنری فعالیت سره په یوه ټل کی راولو.

یوازی ښائی روحی تحلیل چی ټولو شیانو ته دخپلی حرفی او سوابقو له مخی ګوری، روحی ناروغی یو ډول هنری فعالیت وبولی.

خو هغه کسان چی روحی ډاکتران ندی خو دفکر او هوښ څښتنان وی هیڅکله یوه مریضی پدیده دهنر سره نه اشتباه کوی خو بیا هم ددې څخه منکر ندی چی هنری فعالیت اکثره پرداسی پدیدو باندی تکیه لری چی د روحی پدیدو سره کوم چی د روحی ناروغی څخه راپیدا کیږی شباهت لری، پدې کی شك نسته چی د «فروید» په وسیله د طبیعی روانشناسی د لارښوونو کشف د ادبی مؤرخانو په کار کی تازه پرمختګ راوړ او هغوی ئی د

شاعرانو د ژوند د دننني او خصوصي حوادثو د يوې برخې سره د هنري آثارو د ځينو خصوصياتو ومرتب کولو ته تشويق کړل.

البته زه ادعا نه کوم چې دغه شخصي تاروپود دي چې دارادې له مخې او يا په غير ارادي صورت د شاعرانو په آثارو کې موندل کيږي ډېر عمر د مخه لا د شعري آثارو د علمي مطالعې په اثر کشف سوي دي لېکن د فرويد کارو اجازه راکړله چې د خارجي حوادثو تاثيرات دي په ډېر ژور او عميق ډول حتي د هنري آفرينش د وړوکيني تر دورې پورې ووينو. پدې توګه د روح پېژندنې کار او هنري آثار له خپلې موضوع څخه ليرې کيږي او بحث و يوې کلي انساني زمينې ته کشوي چې هيڅکله د هنرمند خوي ندي او مخصوصاً بيا د هنر له مخې هغه هيڅ اهميت نلري بايد اعتراف وکړم چې د خپلو تجربو څخه وماته دا ثابته سوېده چې د هنري آثارو په مقابل کې د حرفه اي نظر او کتنې هيرول او د ژوند په زمينه کې د علميت د قانون څخه سرغړول آسانه کار نه دي خو په پای کې ودې نتيجې ته رسېدلي يم چې منحصراً د ژوند د اکتشافي روح پېژندنې انطباق او په کار اچول د انسان د پاره يو عاقلانه اما د هنري آثارو په باره کې ښه کار نه دي.

د [نورجهاني] ژباړه او ليکنه

په مغولي دوره کې د کندهار

هنري څهره

د مغولو دوره په خاص ډول د بابر د اولادې امپراطوري په هر ځای کې د هنر او ادب يوه دوره وه.

هغه مهال چې بابر د افغانستان له لارې هند ته د فتوحاتو لپاره تلې نو په موجوده کندهار کې ئې د سرپوزې په غره کې د چهل زيني دالان وکيندې خودا کار لا پوره پای ته نه ؤ رسېدلي بابر مړ شو.

تر بابر وروسته د هغه زوی همايون د شيرشاه سوري له جګړو څخه ناآرامه ؤ خو کله چې د بابر لمسي اکبر مغولي پر تخت کښېنوست نو له يوې خوا آرامي شوه او له بلې خوا دده هنري ذوق دي ودې ته وګمارې چې خپل دربار ښه سم کړي. اکبر د خپل نيکه هغه نيمکاره دالان چې د سرپوزې پر غره ئې د چهل زيني په نامه پرې ايښې ؤ تکميل کړ او د کندهار حکومت به ئې همېشه خپل يو ډېر ستر معتمد ته ورسپاري.

تر اکبر وروسته د هغه زوی جهانګير چې پاچا سو نو هم ئې د کندهار موقعيت خورا ښه پېژندي او دلته ئې د هنر خاوندان راليږل په ۸-۱۶۰۷م کال کې ميرزا غازي بيګ متخلص به وقاري او ملقب په غازي خان د کندهار په حکومت راولېږه د «يد بيضا» مولف ليکلي دي «په لوړ همتي او سخاوت کې د حاتم نښانه وه د فضل د خاوندانو محبت ته ئې مفرطه علاقه درلوده د کندهار د حکومت په دوره کې د مترودانو (شګري ؤ). د ماثرالامر مولف ليکي «... وايي چې په کندهار کې د ميرزا مجلس د کمال خاوندانو مجمع وه» ميرزا په ساز او آواز کې پخپله هم بد نه ؤ او سربېره پردې چې لوړ شاعر ؤ د موسيقي عالم او استاد هم ورته ويلای شو.

۱۳ مخ دی وکتل شي

په مغولی ...

د ۱۲ مخ پاته

په وروستی عمر کی دونه عیاش شو مخصوصاً دښځو د مجلس ډېر لیوال ؤ د ماثرالامر مؤلف لیکی چی: په مشروب خوړلو او دښځو سره خلوت بېګانه کړ، څو دخپل مریی له لاسه ئې زهر وخوړل او مړ شو. دده یو مکمل دیوان چی دری ژبه د راپور په کتابخانه کی پروت دی.

پخوا تر دې چی میرزا پرځان دوقاری تخلص کښېږدی په کندهار کی یو بل شاعر د وقاری په نامه اوسېدی میرزا هغه ته زردوبی، سوغاتونه اویو آس ورکړ هغه د وقاری تخلص پرېښود او پر ځان ئې د خلدی تخلص کیښود.

دګرمسېر ...

د ۱۰ مخ پاته

داخلی انجنیرانو په لارښوونه جوړ سویدی چی ۶ متره بر او ۱۲۰ متر اوږدوالی لری. سربېره پردغه دګرمسېر په سیمه درویشان دکانال پرمناسبو ځایو باندی متعدد پاخه پلان جوړ سویدی چی خلګ دتګ او راتګ استفاده ځینی کوی.

فرعی لاری :-

په ګرمسېر کی پر فرعی لاری عموماً هغه لاری دی چی ۲ کلی یو د بله سره مښلوی، یا د کلیو څخه وعمومی سړک ته راغلی وی دالاری عموماً دانسانانو او مواشیو دتګ او راتګ په واسطه جوړی سویدی فرعی لاری دګلیو تر منځ پر یوه لنډ فاصله جوړیږی چی ځینی ئې پخی او د کلونو را پدې خوا پاته دی او بعضی د دوبی په موسم کی جوړیږی او په ژمی کی د ختو، بارانو او یا هغه مځکی چی دا موقتی لار پر جوړه سوی وې وکرل شی دمنځه ځی.

[پاته لری]

آیا پوهېږی؟

علما دیولړ تحقیقاتو په اثر پدې حقیقت پوهېدلی دی چی یو متوسط انسان کولای شی د ۳ ساعتو دپاره د فارنهایت په ۴۶ درجو اوبو کی ژوندی پاته شی.

✡✡✡

دیولړ تحقیقاتو په اثر داخبره اثبات ته رسېدلی ده چی د المپیک لومړی ریکارډ شوی لوبه له میلادنه مخ کی په ۷۷۶ کال کی سوېده او هغه د ۲۰۰ مترو ځغاستی لوبه وه او یونانیانو له مدغی نېټی نه وروسته دالمپیک دمسافو سلسله تعقیب کړه.

دنړۍ جوی اوضاع تر بشپړی پلټنی او کتنی وروسته دا واثبات ته رسېدلی ده، هغه اوریځی چی باران ځینی اوری په اوسط ډول سره ۲۵۰۰۰۰ زره ټنه دروندوالی لری.

✡✡✡

په شپه کی چی دهوا غبار اودوړو څخه کرټ پاکه او چپه چپائی وی د یوه زمری غړومبی تر ۶،۵ کېلو مترو پوری اورېدل کیږی.

✡✡✡

تقریباً د ۳۰ زرو غماشو د وزر دروندوالی یوګرام ته رسیږی.

ښاغلی [نثاری]

طوفـــــــــانی مینه

یو طرف می ډېره حیرانی شوله
بله خوا می مینه طوفانی شوله
غېږ دامیدو چې ورته خلاصه ده
هغه آرزو ولاړه ارمانی شوله
ستر ګی می خپل غم زړه می خپل غم کوی
ګډه می په تن کی ځان ځانی شوله
یار قیمت، دیدار قیمت، وصال قیمت
یو زما د اوښکو ارزانی شوله
تا که هر څه کړه زه خو په ویاړمه
خاوری می په تاپسی ځوانی شوله
اې رقیبه زما دی که ماتم ولید
ستاهم را ښکاره مسلمانی شوله
ماته ئې دمځکی سرسور اور کړلو
دا خو آسمانی وه آسمانی شوله
څوک به ئې په ښکلی مخ پتنګ شی اوس
شمعه په فانوس کی زندانی شوله
سوال می د بوسی نثاری ونه کړو
ژر راته پېغور پښېمانی شوله

دغریب ـــــ ټاټوبی

خدایه ستا په لوی جهان کی
چی ودانی بنګلی دی !
د مزدور د لاس تنها کی
د معمار تودې خولی دی

✡✡✡

دا په بڼ کی چی ګلونه !!
بهارونه تری سازیږی !
د باغوان د زړه په وینو
آبیاری مومی غوړیږی

✡✡✡

مګر واك د بویولو
په قسمت د باغوان نسته
د غریب سړی ټاټوبی
ستا پرمځکه، آسمان نسته
پوهندوی [رشاد]

د دردونو ـــــ افتخار

اشنا ساقی سه چی خمار لرمه
دزړه په سر د غم غبار لرمه
ما ته دحرم نصیحت مه کوه
زه له خپل ژوند سره قمار لرمه
له اوره ډکی کړه پیالی دمیو
چی نن د سولو انتظار لرمه
له هوښیارانو تښتېدلی یمه
له لېونیو سره کار لرمه
ملا که ویاړی دجنت په حورو
زه د دردونو افتخار لرمه
لکه ډېوه سوځم او ژوند کومه
کاروان داوښکو سره لار لرمه
له دی نازکو خیالونو سره
دګل په پاڼو کی مزار لرمه
ښاغلی [لایق]

شپه

شفق خړ ښکاریږی...!
ما ښام سو...!
شپه تیاره سوه... هرشی پټ
سو...!
هری خواته غلی غلیاده..!

حیوان پرېوتل...!
مرغانو په ځایو کی ځانونه
غلی کړه..!
خویدازی بلبله..!
کری شپه ویښه وه، او خوندور
سروز ئې کاوه..!
چی.. ! خاموشی غوږ ورته

نیولی ؤ.
ستوری هم ځلېده..!
د آسمان مېرمنی هم مخ لڅ
کی..! وره لری سوه، او
سپوږمی ښکاره سوه..!
پر تیاره ئې خپله سپینه رڼا
خپره کړه..! [ملتن]

وریځ

وریځی ما ته ویل: زه محوه کېږم.
شپی ویل: زه دسپېدې په منځ کی پټېږم.
ځنګل نارې کړه: زه دهغی ریښی د نښی
په توګه په مطلقه خاموشی پاتېږم.
عمر می راته وویل: زه د خپلو ټولو
خواهشانو په راټولولو مړ کېږم.
مځکی وویل: زما خاوری هره شېبه ستا
آرزوګانی او هیلی مچوی.
عشق فریاد وکړ، ورځی تېریږی او زه به
ستا په انتظار کی یم.
مرګ وویل: په بحر کی ستا د ژوند
ملاح یم.

نباغلی [الفت]

د سبا فکر

پسله خو ورځو به نه ستا ډول او سینګار پاتی سی
نه به زما زړه کښی د عشق دغه انګار پاتی سی

بهار د حسن به دی تېروی تازګی به نه وی
نه به ګلونه، نه بلبلی، نه مالیار پاتی سی

مسته لیلی به سی بوډی ورته به نه ګوری څوك
نه به سپین مخ، نه توری زلفی په رخسار پاتی سی

ډېره به مړه سی د محفل، غلی به ـ ی سازونه
نه به رقیب وی، نه به زه، نه به اغیار پاتی سی

نه به ساقی، نه محتسب وی نه هوښتیار او نه مست
نه به رباب، نه به کتاب، نه به خمار پاتی سی

د احال به نه وی څه چی دی هر څه به بل شانته وی
یو پښتانه به په قومو کی خوار وزار پاتی سی

نور به موټر و طیارو او جهازونو کی ګمی
د پښتون مخکښی به وی خره دی به خر کار پاتی سی

هر څه به نوی سی زړه اوضاع به نه وی پاتی
پښتون به دغسی کوتك او کوتکمار پاتی سی

نه ئی طبیب سته نه دوا نه د علاج څه فکر
د ناپوهی په رنځ اخته به دا بیمار پاتی سی

په پښو اغزی په لاس تهاکی د پښتون دټبر
تر ډېره وخته به د پلار نیکه یادګار پاتی سی

زه به یم مړ ما نه به نور څه چاته پاتی نه وی
زما میراث به خپل پردی ته دا اشعار پاتی سی

ښاغلی عبدالباری

د صحرا نجلۍ

ددې ښار څخه د باندی ولاړم
مخ می وتورو کنډوالو ته ونیو
غوښته می لږ ګړی بېغمه سمه
ځکه می مخ وتورو غروته ونیو

د هغو تورو کنډوالو په منځ کی
د هدیرو د شهیدانو سره
د هغو لوی لویو قبرونو تر منځ
د تور لحد بندی وانانو سره

هلته یو ښکلی ګلالی پېغله وه
چی نیمه پټه وه زړو جامو کی
په آرامی می ځنی وپوښتله
ګلالی څه کوی دې تورو غرو کی

د غریبه ډک ستونی ئې خلاص کی راته
پر سرو شونډانو ئې غاښونه کښېکښل
دلالی ګل غوندی ئې سترګی سرې شوې
یو وار ئې پورته بیا ئې کښته کتل

پیالی د اوښکو ئې راډکی سولی
ځینی لبرېزه سوی راوڅڅېدی
باڼو ئې یوله بله کښی کښل سره
ګلالی سترګی ئې راواړولی

درې ورځی کیږی بابا جان می مړدی
زه د کفن پیدا کېدو د پاره
دلته یم ناسته تصور جهان کی
دوږی نس د مړېدو د پاره

نوی ژوند

وخت بی وخته یو وږمه چرته نه راشی
تری پیدا ځما په مات وزر کښی ساسی
معلو میږی چی ځما بڼی الوزی
تر نه مخکښی به یو نوی ژوند پیدا سی

خبرداری

هر طرف ته خاموشی چپه چپتیا ده
د اوبو مخ چپ ولاړ لکه میدان دی
یو هوښیار مانړګی په چغه وایی زر کړی
سمندر ده ساه راکښلی جوړ طوفان دی .

««([ ])»»
««([ ])»»
««([ ])»»

«نوی نشر»

د سهار سپېدې

زما په فکر د سهار سپېدې د هغه نور له جنس څخه دی چې د عشق له طلوع څخه په زړه کې ځای لري د دوستۍ هنداره، د ګلزار هوا محبت او وفا ده، روڼې اوښکې دی چې د نورو پر تورو بختو توئیږي.

یوه غم آوره آه ده! چې د مظلومانو پر بېچارګۍ خیژي، او یا هغه زړه دی چې د ناامیده زړو په تسلي لګیا وي.

ښاغلی حمزه

ژاړم پداچې ته خندا نه کوې

بې شکه ما دغه خطا کړېده
چې تا جفا کړه ما وفا کړېده

نن مې په عمر ستا رضا کړېده
چې مې خپل مرګ لره دعا کړېده

تا که د ظلم انتها کړېده
ما په تسلیم کښې ابتدا کړېده

داچې سم سم راته نظر نه کوی
ښکاري چې تا مې د زړه غلا کړېده

ژاړم په داچې ته خندا نه کوې
خاندی په داچې ما ژړا کړېده

تا تماشه د تماشو کړه په بام
ما تماشه د تماشا کړېده

کومه وعده دی مادروغ ګڼلی
کومه وعده دی په رشتیا کړېده

ما پرېشان په ځنځیر کلك وتړی
د تورو زلفو مې سودا کړېده

چې خپل غزل دچا نه واورم حمزه
وایم چې چا هسې وینا کړېده

ملی اشعار

که ګنجونه دقارون در ته انبارشی
که آسمان دی د زمری په خوله کښې ورکا

په هر لوری غورزوه په سعاوت
د زمری په خوله کښې مه پرېږده همت

نادان به ئې پریدی روسته و بل ته
د همت ذخیره واستوه د وړاندی

عاقلان په وړاندی بیائې خپل دولت
دا یوځو ورځې ژوندون دی غنیمت

که راحت غواړې په ځان قبول کړه
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې

بې محنته هیڅوك نه مومی راحت
چې یادیږی د سړی خوی وخصلت

موږ به، نه یو

دریغه ګل به په ګلزار وی موږ به نه یو
د بلبل به پری چغار وی موږ به نه یو
زلمی جونه به سیلونه د صحرا کا
غراو دښت به لاله زار وی موږ به نه یو

څوك به ږدی تازه ګلونه په اوربل کښی
چا به ایښی پر دستار وی موږ به نه یو
دزړه یار به می افسوس پر مزار وکړی
توره لمبه به ئی خونبا وی موږ به نه یو

ګلرخان به ګهی ناز ګهی نیاز کړی
عاشقان به سل هزار وی موږ به نه یو
چی عنقا غوندی مرغان ئی په دام نښلی
هغه زلفی به تارتار وی موږ به نه یو

چی مجلس مو په کښی کړله ښو نیاز منو
روغ ولاړ به هغه دار وی موږ به نه یو
د دنیا بازار به مرګ دچا سوړ نه شی
تل به ګرم دا بازار وی موږ به نه یو

یادګاری به په جهان کښی «پیر محمد»
دا زموږ شیرین ګفتار وی موږ به نه یو

باغ د ګلو به سمسوری موږ به نه یو
د مرغانو به پری شوری موږ به نه یو
ونی بیا به شګوفه د نوبهار شی
پر نری شمال به اوری موږ به نه یو

بورا ګان به د بهار په ژېړ ګلونو
یو تربل به سره خوری موږ به نه یو
رنګارنګ مېوې به ونیسی ښاخونه
ډك له پاڼو به نسکوری موږ به نه یو

شا په شا به آشنایان سره تېریږی
د یارانو حال به نوری موږ به نه یو
عاقبت به د چندنو ونی پرېوزی
هی سوران به کور بکوری موږ به نه یو
کافران به همېشه «عبدالعظیمه»
ددوږخ په اور به توری موږ به نه یو

ښاغلی [وحید]

د مځکی کره

معما که معجزه یی څه نخره ئې
له حیرته ډک شان که ننداره ئې
په ساده بڼه چی هومره زیبا ښکاري
د قدرت په لاسو جوړه منظره ئې
ترلمن لاندی پراته دی پټ اسرار دی
د انوارو خزانه هسی سپېره ئې
مغلوب سوی تاته لوی، لوی طاقتونه
په عقلونو کوی لوبی مسخره ئې
د زرونو ګردنونه دی مات کړی
د قدرت په لاسو جوړه خمیره ئې
څه دی وبولمه څه یی نه پوهېږم
ګویا نغښتی څه مرموزه اشاره ئې
حقیقت چی به دی څه وی «وحید» وایی
نوم دی څکه د سپېرې مځکی کره یی

نور احمد «سوځند» ژباړه

د تاریخ یوه پاڼه

رنسانس او علتونه ئې

لمړی فصل

کوم وخت چی موږ په تاریخ کی د رنسانس د کلمی سره مخامخ کیږو د هغه څخه مراد یو تکاملی تاریخی مرحله ده چی د پنځلسم قرن او د شپاړسم قرن په اوایلو کی برحاله ده .

د رنسانس څه باید داسی فریب ونه خوړل شی چی د شپاړسم قرن پخوا په قرون وسطی کښی ادبیات مړه وه او د ۱۵ (قرن) په اواخرو کی راژوندی شول بلکه داسی نده یعنی رنسانس د ادبیاتو او صنایعو ژوندی کیدلو ته نه وائی، بلکه د هغو د بڼی د تغیر څه عبارت دی ولی چی په قرون وسطی کښی د خپل مخصوص طرز سره سره په کافی اندازه ترقی کړی وه .

مګر مهمه موضوع داده لکه څنګه چی موږ عقیده لرو چی د تاریخ په سرعت کی انسان مهم رول لری نو همداسی ځینی ماهرو او زبردستو صنعتګرانو او ادباوو دا کاروان په چټکی او موفقیت سره رهنمایی کړی څو چی هغه مسافه چی باید په یوه زیات وخت سره ئې طی کړی وای په لږ وخت او کافی سره تر تیر شول .

(یعنی پدی وخت کی د تاریخ د لوړو او مترقی شخصیتو په واسطه په ادبیاتو او صنائعو کی یو بارز تحول پیښ شو چی دا تحول د رنسانس په نامه سره یاد کړل شو) .

رنسانس د لمړی ځل له پاره دایټالیی څه شروع او وروسته ئې په فرانسه او المان کی توسعه پیدا کړل چی پسله هغه هسپانیی هالنډ او نورو ممالکو ته ور ورسیدلی ، او د تاریخی د یوې مهمی او ځلاندی دوری څه شمیرل کیږی .

باید ووایو چی د دی دوری د شاهکار یو مثال ډیر را وروسته بیا هم نه لیدل کیږی .

د بله طرفه که لږ څه ځیر شو دا راته واضح کیږی چی د دې ځلاندی دوری وافکارو او دماغ ته د عمل په میدان کښی څومره انکشاف ورکړ شویدی .

دوهم فصل :-

د رنسانس علتونه :-

د صنایعو او ادبیاتو ظهور په شپاړسم قرن کی البته ډیر عوامل لری مګر موږ ئې هغه عمده علتونه چی د څېړنی وړ دی مطالعه کوو .

۱)- څرنګه چی موږ د ادبیاتو او صنایعو تحول د تاریخ په پاڼو کښی تر مطالعی لاندی نیسو ښه ترا واضح کیږی چی دا دوره د تاریخ محصول او په ادبیاتو او صنائعو کی دا تکامل او ابتکار د مترقی تاریخ یو بشپړ ښکارندوی دی .

۲)- دوهم عامل دا وو چی د شپاړسم قرن هغو پیاوړو اشخاصو چی د رنسانس علمبرداران ورته ویل کیږی صنعت ئې واعلی درجی ته رسیدلی و .

۳)- په پنځلسم قرن کی هغه قدیمه اثار چی د قرون وسطی د خلکو لپاره کشف او د صنعتګرانو او نویسندګانو لپاره ئې یوه نوی لاره پرانستل چی پدې ضمن کی د چاپ د ماشین اختراع د دې افکارو او معلوماتو د پراختیا لپاره یو مهم رول ولوباوه .

۴)- درنسانس مهم اوعمده علت د ځینو ، فیوډالانو او متنفذینو شوق ؤ د صنعت سره ځکه چی ذکر شوو اشخاصو د خپل طبقاتی موقف پر اساس د ښکلو قصرو، عمارتو او کورو په فکر کی وه اوهم ئی غوښتل چی پخپلو ماڼیو کی د خپل فرحت پر اساس د ښو تابلوګانو او یا خپلو نیکونو مجسمی، ودروی او یا ئی تاریخونه را ژوندی کړی .

چی البته داټول هغه عوامل دی چی د صنعتګرانو او ادباؤ حمایه ئی د لوړی طبقی د پاره ضروری کول اوهم ئی یوه زیاته اندازه پیسی وهغوی ته ورکولی

چی تاریخ د وی حمایه د لوړی طبقی له خواداسی تشریح کوی : کوم وخت چی په ایټالیه کی د رنسانس ددوری یوستر شخصیت (سلینی) په قتل سره متهم شوی و دده د محکمی په جریان کی پاپ داسی وویل :

چی داسی بیګانه اشخاص لکه سلینی نه باید د قانون مراعات وکړی یعنی سلینی قانونی مسئولیت نلری چی البته داقصه پورته موضوع ښه ترا واضح کوی .

په تاریخ کی هغه اشخاص چی درنسانس ددوری د صنعتګرانو او ادباؤ حمایه ئی پرغاړه وه د (مستوقینو) په نامه سره یادیږی چی مهم ئی په فرانسه کی د (والوا) د کورنی شهزاده ګان وه .

اوهمداسی په ایټالیه کی د (مدشنی) د کورنی اوداسی نورو څه عبارت دی .

دریم فصل :-

درنسانس ددوری اخلاق :-

ددې ځلانده تمدن سره د لوړی طبقی له خوا داخلاقو فشار بېرحمی، قتل، خیانت، زجر په کافی اندازه ملګری و .

حاکمی طبقی پر محکومو طبقاتو په بی نهایی توګه ظلم کاوه او د خپلو اعمالو او اهدافو د پیشرفت په لړ کی ئی د هری ممکنی وسیلی څه کار اخیستی .

چی عمده مثال ئی په ایټالیه کښی (سزار برژیا) دی چی د (الکسندر شپږم پاپ) د زامنو څه و ویلای شو چی داشخص درنسانس ددوری د ظلم ، خیانت او نورو عیوبو یو لوی ښکارندوی دی . هغه انسانان چی دده په امر او یا دده په لاس سره وژل کیدل تر شمیر زیات دی چی ددې کار د پاره ئی د هیمش د پاره یو حلاد د ځان سره ملګری کړی و

چی : البته د طبقی د ا وضع د تاریخ په رڼا کی تیریدل او تاریخ د همداسی اعمالو په مقابل کی عکس العملونه ښودل .

څوچی داسی وخت را ورسید چی نورنو محکومی طبقی او تاریخی جبر او د محکومی طبقی او تاریخ عکس العمل کرار ، کرار شرائط څه ښه کول .

څلرم فصل

درنسانس ددوری مهم ادبأ ، صنعګتران او مؤرخین :

په شپاړسم قرن کی په ایټالیه کی لاندنی لیکوالان موجود وه چی درنسانس ددوری ستوری ورته ویل کیږی .

۱)- آریوسټ (۱۵۳۳-۱۴۷۴) چی په ۱۵۱۶ کال ئی د شارلمانی جنګو موضوع د اعرابو سره د تاریخ په توګه ولیکل .

۲)- تاس شپیته کاله وروسته د صلیبی جګړو تاریخ ولیکی .

۳)- کیشارډن یو بل سیاسی شخصیت د ایټالیی د جنګو موضوع او په هغه وخت کی کی د ایټالیی سیاسی اخلاق په یوه (شهزاده) نومی کتاب کی ولیکل .

۴)- ماکیاول هم د ایټالیی یوستر مؤرخ شمیرل کیږی .

د خندا !!! یاوش

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

د پاتا مجلس

یوه ښځه د خپلو همسایګانو کره ورغلی که ګوری د کور ښځی د شکایت خوله خلاصه او په ساندو کی وایی چی:-

« په فلانی کور کی د پاتا مجلس دی؛ خو زه نه توره چادری لرم، نه تور پوړنی او نه یو بل تور ټوکر چی وائې غوندم ».

همسایه ښځی ورته وویل چی:-

هلته خو ستا تګ ته ضرورت نسته، ځکه زه چی درته ګورم همدا دلته دی د پاتا مجلس جوړ کړیدی.

✿✿✿

ډاکتر او ناروغ

ناروغ: ښاغلی ډاکتره! پر نس می ډېر درد دی.

ډاکتر: څه شی دی خوړلی دی؟

ناروغ: وړمه ورځ می دوه چاریکه خټکی خوړلی دی، تاسی ئې یو چاریك وشمېرئ، او پرون می دوه چاریکه هندوانه خوړلی ده، چی داهم یو چاریك حساب کړئ. او نن می یو چاریك پنیر له ډوډی سره خوړلی دی، تاسی ئې نیم چاریك وبولئ او غرمه می هم نیم چاریك انګور خوړلی دی تاسی ئې یو پاو وبولئ!.

ډاکتر: ډېر ښه پوه سوم؛ پدې صورت به ستا شپږ میاشتی تبه وی، هغه درې میاشتی حساب کړه، پسله هغه به مړسی، ته ځان ژوندی وبوله، او کله چی په قبر کی کښېښوول شوې ته ځان د خوب په اطاق کی وبوله، او چی یو خروار خاوره درباندی واچوله شوه هغه بیا نیم خروار وشمېره.

✿✿✿

مچه او چپلاخه

یو مسیحی واعظ چی زیاتره اروېدونکی ئې ښځی اونجونی وې، وویل:-

« دغه لویه خبره هېره نه کړئ چی: که یو چا دمخ پر یوه خوا په چپلاخه ووهلاست هیڅ قهر مه ورته کوئ، بلکی د مخ بله خوا هم ورنژدې کړئ.

له حاضرینو څخه یوې نجلۍ په لوړ آواز ورناري او پوښتنه ئې وکړه:-

آیا دغه حکم د مچی په باب کی هم صحیح دی؟.

د جزا تاکل

یوه ځوانه نجلۍ و قاضی ته په شکایت دربدلی ورته ویی ویل چی :-

د همسایه زوی له ما څخه مچه واخیسته اوس امر وکړه چی هغه دبازخواست دپاره حاضر، او جزا وویني .

قاضی ورته وویل چی: جزا ئی داده، ورشه ته هم هغه مچ کړه ځکه چی «جزا په جزا ده» .

✡❀✡

د لړم جواب

ولړم ته ئی وویل چی: ولی په ژمی له غاره نه راوری ؟

لړم ورته وویل: په دوبی چی راوزم څه عزت می سویدی چی په ژمی هم راووزم .

✡❀✡

پسه او لپوه

یو پسه دیو ډېر لوړ بام پرسر ناست اوچی لاندی ئی یو لپوه ولید ډېر ښکنځل اوبد ویل ئی ورته وکړه .

لپوه ورته وویل: داته نه یی چی زما په مقابل کی دی جسارت کړی ښکنځل کوې بلکی داستا لوړ مقام دی چی جرئت ئی کړی نه راته وایی .

✡❀✡

د قیامت ورځ

ملانصرالدین یوغټ پسه درلود، یوه ورځ دښار څوتنه رندان سره ټول او سره جوړه ئی کړه چی ملا ته باید یو چل جوړ، او په پسه ئی مېله جوړه کړو . وروسته په ګډه د ملا کره ورغلی او ورته وئی ویل :-

ته داسی فرض کړه چی سبا قیامت سی نودا پسه به دی په څه درد وخوری؟ ښه داده چی ئی یو باغ ته ولاړ شو هلته ئی حلال او ښه مېله پر جوړه کړو ، څو ته هم یوه ورځ په عیش تېر کړې .

ملاهم دهغو خبره منلی ، ټول باغ ته ولاړل او هلته ئی پسه حلال، ښه،ښه کتابونه ئی نوش جان کړه .

ماپښین چی هوا ښه ګرمه وه، ټولو ملګرو کالی کښلی داو بازی دپاره سیند ته ولاړل .

ملا چی د پسه له حلالولو څخه پښېمانه شوی وو د ټولو مېلمنو کالی ئی سره راټول کړی اور ئی ورته کړ .

کله چی رندان ملګری ئی له اوبو څخه راووتل و ئی لیدل چی ټول کالی ئی سوځل سوی دی .

له ملا څخه ئی پوښتنه وکړه چی دادی څه کړیدی ؟

ملا ورته وویل: تاسی ئی فرض کړی چی سبا قیامت دی نو کالی به مو په څه درد وخوری؟!.

✡❀✡

د شکر ځای

دیوسړی عادت ؤ چی چا به یو نکل یا حکایت ورته کاوه او یا څه به پېښه شوه ده به ویل: «بیاهم د شکر ځای دی ښایی چی تردې بدتره پېښه شوې وای » .

د مثال په توګه که به چا ورته وویل چی: فلانی ځای اور اخیستی ، یا زلزله شوې، او یا فلانی طوفان شوی کښتی ډېر خلک غرق کړل ده به ویل «بیا هم د شکر ځای دی ښایی...» .

یوه ورځ ئی یو دوست د یو بل دوست نوم وراخیستی ورته وئی ویل :-

آیا خبرشوی یی چی فلانی تـه ډېره بده پېښه ده ؟

- و یل یه .

دوست ئې ورته وویل : کله چی هغه له سفر څخه راتی او کورته رسیدلی ؤ ښځه ئې له اجنبی (پردی) سړی سره لیدلی ، دستی ئې توپنګچه پرا ایستلی په یوه ټک ئې ښځه ، په دوهم ئې هغه سړی او په دریم وار ئې ځان مړ کړ .

سړی ورته وویل : رشتیا داخو ډېره بده پېښه شوی اود افسوس خبره ده ، خو بیاهم «دشکر ځای دی بنا یی چی .... »

دوست ئی ورته وویل : چی تردی بدتره یعنی څه ؟

سړی ورته وویل : چی تر دی بدتره هغه ده چی د اجنبی سړی پر ځای زه او یـا ته وای .

✡✡✡

عذر تر ګناه بدتر

یو سړی خپل یو ګران دوست میلمه کړی ، او کله چی له یوی او بلی خواسره ګلوه ، ناڅا په دموسیقی آلاتو (ویلون) یوداسی بڅ ترغوږ شو چی خورا ناموزون او د اروېدو نه ؤ میلمه وویل :-

ویلون می اروېدلی ؤ لیکن نه په داسی رقم چی دویلون له بڅ څخه داروېدونکی زړه ماتوی .

د کورخاوند وویل ډېر ښه . زه به دستی خپلی ښځی ته ووایم چی نور ستاسو دتکلیف سبب نه سی .

میلمه چی هیڅکله داتصور نه کاوه ، چی ویلون بڅونکی دی د کورد خاوند ښځه وی ډېر خړشوی ، اوددې دپاره چی خبره رد کړی وئې وېل :-

وبخښی زما مقصد ویلون بڅونکی نه ؤ بلکی هغه څوك دی چی دغسی ناکاره ویلون ئې جوړ کړیدی .

د کورخاوند وویل : بیاهم وبخښی ځکه چی دغه ویلون ما جوړ کړی .

✡✡✡

بد شکل

دوه نفره چی دواړه ډېر بـدرنګ اوبد قواره وه د جنګ میدان ته د جنګ کولو دپاره سره حاضرشول یوه وهغه بل ته وویل :-

په یوه دلیل نه غواړم چی ستاسره جنګ وکړم هغه داچی که ته مامړ کړی . زه به مفت له لاسه تللی ، هیڅ فایده به می نه وی کړی . او که زه تامړ کړم بیاهم ماته لـوی تاوان لری ، هغه داچی ترتا وروسته به زه په ټوله دنیا کی ډېر بدرنګ اوبدقواره ایسم .

مقابل نفرچی دغه دلیل واروېد ، شین له خنداتللی او یوله بل ئې په غېږ کی سره ونیول .

✡✡✡

د همسایـه دېګ

یوه مکاره ښځه د همسایه کره ورغلی ، او ورته ویی ویل : چی زموږ کره ډېر مېلمانه راغلی ، اما نتاً یولوی دېګ غواړم . همسایه ئې هم یوغټ دېګ ورکړ .

دوې ورځی چی تېری شولی ، مکاری ښځی هغه لوی دېګ او یوبل کوچنی د ېګلی د همسایه کره ور وړل .

همسایه ښځی ئې ورته وویل : چی دغه د ېګلی چیری اود چادی ؟

ښځی ورته وویل : کله چی ستاسی د ېګ زموږ کره امانت پروت ؤ ، په دغو ورځو کی ئې

دغه کوچنی دېګلی زېږولی، او غاړه می دی خلاصه وی دا هم ستاسی حق دی .

همسایه ئې ورته وویل: کورمو ودان .

بله هفته بیا ددې د پاره چی همسایه ښځه خیرات کوی هغه دېګ ئې بیا په امانت توګه وړی، او وختی چی بیا ئې ورسپاره یو بل وړوکی دېګلی ئې هم ورسره یوځای کړی، او همسایه ښځی ته ئې وویل چی :-

دغه دېګلی هم ستاسی دېګ زېږولی دی .

دریمه هفته ئې بیا په یوه بله بهانه دېګ امانت وړی، خو پدغه پلا ئې خوله پرېټه کړه .

کله چی یو څو ورځی وروسته همسایه ښځی دخپل دېګ غوښتنه وکړه؛ مکاری همسایه ښځی ورته وویل :-

څرنګه چی تاسی ته هم ښکاره شوه چی دېګ لنګیږی او پدې هم ښه تر اخبر یاست چی لنګون همېشه بی خطره نه وی ځکه اوس په خورا افسوس وایم چی هغه ستاسی لوی دېګ دلنګون په وخت کی سربسته ولاړ .

د ۲۲ مخ پاته پرخه

رنسانس او علتونه ئې

صنعتګران ئې د برامانټ لئونارد اوسنی، میکلانژ څه عبارت دی .

مهم نقاشان ئې عبارت دی د تیسین، رفائل، کرژوانژ او داسی نور .

که څه هم په (۱۶) قرن کی په فرانسه او نورو ممالکو کی لوړ علما، نویسندګان معماران او حجاران په وجود راغلل مګر په هیڅ توګه ئې دا یټالوي پوهانو سره سیالی نسوای کولای .

پوهاند [حبیبی]

د مینی خبری

هغه ورځ چی زوکیدم؛ ستا د مینی ږغ ئې په غوږ کی راوکی؛ زه په هیڅ نه پوهېدم کوچنوټی وم، هلته تا دلمر په وړانګو او د سپوږمی په وږمکی کی قدرت راښکاره کړ . د کور د څنګه می دونو په منځ کی یو تور کی چنجی ؤ ...

د شپی ئې خوږې نارې وهلی، ما دده په نارو او شپېلکی کی ستا د مینی ږغ اورېد ... اوریځی پرشینکی آسمان ګرزی ... تالندی غړغړی وهلی ... برېښناوی ځلیږی . دلویو غرو څخه خړخړ ماندونه راځی دلته . هلته وچه مځکه او بوی . دا ټوله ستا دی ... ټوله له تا دی .. بل څښتن نسته .

یو ته ئې :

ددې غره پرهاخوا، دها بل غره پرهاخوا، هولته لیری، هوکی ډېر لیری! یو خوږ ږغ پور ته کیږی !

ستا د مینی لنډۍ وایی ... دلته د پسرلی په شنو تالو کی سره او زرغونه ګلان غوړېدلی دی . غاټوی خاندی ریدی نڅا کوی! زه ورته ګورم ستا .. هوکی ستا د مینی بوی ځینی راځی په لویو غرو کی ! په ګړنګو، په رغو، پر دښتو پر لوړو ژوروته نه راڅخه هېرېږی! ستا د مینی سندری بولم .

هولته، هلته، دلته ته ئې او زه بل څوک نسته یه یه !

یو اځی ته ئې، زه هم نه یم .

---

(۴) فصل

د نړی د تاریخ څه چی د افغانستان چاپ دی تخلیص شوی دی .

ښاغلی عبدالباری [دیدار]

د نړۍ د یو ویشت هیوادو

دوه ویشت متلونه

کوښښ وکړه چی پر مشکلاتو بری پیدا کړې .
«عربی»

هر څوك چی د پورته ختو څخه بېریږی لاندی پاته کیږی .
«لاتینی»

کال چی آبادوی د پسرلی څخه ئې معلومېږی .
«افغانی»

هر څونه چی قفس تنګ وی، هغونه آزادی خوږه وی .
«المانی»

د مېړه ایمان د سختی او تکالیفو په وخت کی معلومیږی .
«انګلیسی»

چاپلوسی لکه سایه چی انسان نه غټوی او نه ئې کوچنی کوی .
«روسی»

هوښیا په خپل ځان نازیږی او بېعقل په نورو نازیږی .
«هندی»

د نابغو او لېونیانو پیدا کونکی عشق دی .
«سویډنی»

سپی د خپل خاوند په کور کی زمری دی .
«افریقائی»

وړانده ته د څراغ روښنائی هیڅ ګټه نه لری .
«ترکی»

ډبره د آبادی د پاره ده ، نه آبادی د ډبری د پاره .
«چینی»

که ډبره د کوزې سره یا کوزه د ډبری سره وجنګوې په دواړو صورتو کی کوزه ماتیږی .
«یونانی»

فقر د عفت دښمن دی .
«آیرلنډی»

د بهانه کونکی سړی د پاره همېشه بهانه سته .
«ایټالوی»

حقیقت او د ګلاب ګل دواړه اغزی لری .
«هسپانوی»

غل چی د غلا موقع پیدا نه کړی نو ځان امین بولی .
«المغربی»

هره ګیاه د تخم څخه پیدا کیږی .
«یوګوسلاوی»

ښځه په یوه ګړی کښی او یا فکره لری .
«روسی»

مفلسه مسافر د غله و مخ ته هم ترانه وایی .
«جاپانی»

په عشق او خوب کی هیڅ شی محاله او ناممکنه نه دی .
«المغربی»

په هغه کور کښی چی مېلمه پال ئې ښایسته وی نو شربت ئې لاخواږه وی .
«فرانسوی»

سوی په سپیانو . لېونیان په صفتو او ښځی په پیسو ښکار کیږی .
«المانی»

ادبی ظرافت

ښه آواز هم نعمت دی

ښاغلی «بینی قدور» چی د غزلو خورا ډېر شوق ئې درلودیوه ورځ یوه لوی استاد ته ورغی او د موسیقی ترازموینی وروسته ئې خپل همسایه ته وویل:

انډیواله نن د موسیقی استاد راته وویل: د دې لپاره چی آواز می خورا ښه دی نو هر کله چی غزل وایم باید له ښاره د باندی ووزم.

همسایه چی ئې د بد آواز څخه خورا په عذاب ؤورته وئې ویل:

خورا ئې ښه درته ویلی دی زه حاضریم چی ستاسی کالی هم په خپل موټر کی درسره یوسم.

ښاغلی محمد جان

سره میاشت او اسلام

که چیری د اسلام د مقدس دین احکام او آوامر ته په ژور فکر وګورو د حقیقت به په روښانه توګه راته څرګندشی چی یوزر او څوسوه کال پخوا په هغه وخت کی چی سویسی (هانری دونانت) په نړی کی د هستی ستر ګی نه وی غړولی د اسلام مقدس دین د سری میاشتی یعنی له خوارانو سره د مرستی اساس او مبادی بیان کړی وه نوددې د پاره چی دا ادعاد اسلام د تاریخی شواهدو له لاری ثابته کړم ، لازم ده چی د آسمانی هدایاتو او محمدی لارښودنی او د صدر اسلام د ځینو رهبرانو د تو صیو په هکله څه ولیکم :-

الیف د څښتن تعالی آوامر :

۱) خدای تعالی په خپل مقدس کتاب قرآن کریم کی چی د مسلمانانو قوی لارښوونکی دی د (بنی آدم) په خطاب سره ئې د ټولو انسانانو په منځ کی دعامی ورور ولی اعلان کړی او له هریو څخه ئې غرښتی دی چی د نورو ژوندته په درنه سترګه و ګوری حقوق ئې محترم وګڼی، د تنګسی او ضرورت په وخت کښی له انسانی اخلاقی مرستو څخه کار واخلی .

۲) څښتن تعالی په بل ځای کښی فرمایلی دی : (متقیان هغه څوك دی چی په غیب ئې ایمان راوړی وی لمنځونه کوی او له هغه شی څخه چی خدای پاك ور روزی کړیده په خوارانو او غریبانو ئې نفقه کوی .

۳) لوی ذات په بل ځای کښی د اسلام پیروانو ته داسی لارښوونی کوی) هیڅکله به داسی نیکی ته ونه رسیږی تر څو پوری چی تاسی هغه شی د پاك خدای په لار کی مصرف نه کړی کوم چی تاسی ته زیات ګران وی او تاسی ئې زیات دوست ګڼی او کوم شی چی تاسی د پاك خدای په لار کی مصرفوی الله پاك په هغه باندی ډېر ښه پوه او دانادی .

۴) لوی ذات فرمائي (هر یتیم ماشوم چی د زړه سوځی وړوی مه ورته په غصه کیږی او سائل مه ترټی) .

۵) په بل ځای کښی څښتن تعالی بندګانو ته امر کوی چی یوازی دا کار نیکی نده چی تاسی خپل مخونه وقبلی ته په لمانځه کی وګرځوی بلکی ایمان راوړل په خدای «ج» او رسول الله «ص» باندی او غریب او بی وزلی سړی سره مرسته کول دی .

۶) د زکات فرضیت چی د اسلام یو اساسی رکن دی د دی همدی غرض لپاره منځ ته راغلی دی .

ب: د حضرت محمد (ص) لارښونی :-

۱) هغه څوك چی په مړه ګیلړه پوډی خوری او په خوا کی ئې ګاونډی وږی وی په هغه کی کامل ایمان نسته

۲) څوك چی پر خلکو زړه سوی نه کوی خدای تعالی (ج) پر هغه باندی رحم نه کوی.

۳) حضرت محمد «ص» یو ورځ بی بی عایشه «رض» ته وویل «ای عایشه خواران او بیوزلی د خیره مه پر ږده که څه هم نیم خرما ور کړی

زرینه دانه

زه په کلی کښې د خیرغوښتلو د پاره د دروازه په دروازه ګرځېدلم چې ستا زرینه ګاډی د ځلېدونکی خوب په څېر له لیری څخه را ښکاره شوه او زه حیرانه پاته شوم چې دا کوم شهنشاه راغی.

زما امیدونه راپاڅېدل او دا خیال می کاوه چې اوس نو زما بدی ورځی ختم سولی؛ زه په انتظار کښې ولاړه وم چې اوس به بې غوښتنی خبر راکړه شی او زما شاؤخوا خاورو کښې به دولت وپاشل شی.

په همهغه ځای کښې چې زه ولاړه وم ګاډی ودرېدله؛

تاراته ومسل، او زما خواته راکوز شوی راغلی؛

ما داسی حس کړه، چې آخر زما دژوند د خوښی لمحی راغلی ناڅاپه تاخپل ښی لاس را اوږد کړ او پوښتنه دی وکړه چې:

« تا ما ته څه راوړی دی ».

آه، دا څه شاهانه ټوکه ده چې تاخپل لاس یوې خیرغوښتونکی نجلی ته د خیر غوښتلو د پاره غځولی دی.

زه وربرد ېدم، پرېشانه شوم، بیانو ما له خپلی ځولی څخه ورو، ورو دغلی یوه حقیره دانه راوکښله او تاته می وړاندی کړه؛

خو زما حیرت هغه وخت لازیات شو چې ما ښام می خپله ځولی کور تشه کړه او د غلی په خوار کوټه کښې می یوه زرینه دانه وموندله.

ما په رټ رټ وژړله او زړه می غوښته چې کاشکی می خپل هر څه تاته وړاندی کړی وای.

[ټاګور]

KANDAHAR
MONTHLY MAGAZINE
OFFICE:-
PRESS DEPARTMENT
KANDAHAR, AFGHANISTAN
EDITOR: ZALMAI 'BARAK'
(OCTOBER) 1968
GOVERNMENT PRESS

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د ۹ کال اوومه کڼه
۱۳۴۷

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
دهیواد په داخل کی [۳۲]
په دباندنیو هیوادو کی یوډالر
پر له پسی کڼه ۹۷

د کندهار دولتی مطبعه